د مَدَني مرکزونو (فیضانِ مدینه) او د شعبه اِمام مساجد (دعوتِ اِسلامي)د انتظام لاندې جوماتونو د پاره

پۀ 10 جولائي، کال 2026ء (بمطابق: 24 محرم شریف، کال 1448ھ) د جُـمعَةُ الـمبارک

قرآني بیان

پۀ نوم

خوف خدا[د الله پاک نه د وِېرې] فائدې

پۀ دې بیان کښې به تاسو زده کړئ...

- ---پۀ نېکو باندې د اِستقامت وظیفه
- ---سحر مو سترګې ولې نۀ غړېږي---؟
- ---خوف خدا[د الله پاک نه د وِېرې] فائدې او ثواب
- ---د زړۀ د سختی عِلاج

پیشکش

اَلْمَدِیْنَۃُ الْعِلْمِیَۃ

Islamic Research Center

(شعبہ: بیاناتِ دعوتِ اسلامی)

For Feedback:+92 315 2692786

اَلْحَمْدُ لِلّٰهِ رَبِّ الْعٰلَمِيْنَ وَالصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلٰى سَيِّدِ الْمُرْسَلِيْنَ

اَمَّا بَعْدُ فَاَعُوْذُ بِاللّٰهِ مِنَ الشَّيْطٰنِ الرَّجِيْمِ بِسْمِ اللّٰهِ الرَّحْمٰنِ الرَّحِيْمِ

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا رَسُوْلَ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا حَبِيْبَ اللّٰه

اَلصَّلٰوةُ وَالسَّلَامُ عَلَيْكَ يَا نَبِيَّ اللّٰه وَعَلٰى اٰلِكَ وَاَصْحٰبِكَ يَا نُوْرَ اللّٰه

نَوَيْتُ سُنَّتَ الْاِعْتِكَاف (**ترجمه:** ما د سُنَّت اعتكاف نِيَّت وكړو)

د دُرُود شريف فضيلت

قَالَ رَسُوْلُ اللّٰهِ صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَ اٰلِهٖ وَسَلَّم: مَنْ صَلَّى عَلَيَّ فِيْ كِتَابٍ لَمْ تَزَلِ الْمَلَائِكَةُ تَسْتَغْفِرُ لَهُ مَا دَامَ اسْمِيْ فِيْ ذٰلِكَ الْكِتَابِ۔

د اخري نبي، رسولِ هاشمي صَلَّى اللّٰهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم **فرمان مبارک دے:** چا چې په کتاب کښې په ما باندې دُرُودِ پاک وليکلو، د څو پورې چې زما نوم په هغې کښې وي، فرښتے به د هغۀ د پاره د بخښنې دُعاګانې کوي۔ [1]

عجب کرم ہے کہ خود مُجرموں کے حامی ہیں — گناہگاروں کی بخشش کرانے آئے ہیں
وہ پرچہ جس میں لکھا تھا درود اس نے کبھی — یہ اس سے نیکیاں اس کی بڑھانے آئے ہیں [2]

وضاحت: څومره ښکلې کرم دے پخپله د خپل اُمت د ګنهګارانو مددګار دے او د هغوئ د بخښنې د پاره به تشريف راوړي، په دُنيا کښې به چې چا په کاغذ باندې دُرُودِ پاک ليکلے وي د هغۀ د نېکو د زياتولو د پاره کرم کوونکے دے۔

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

قَالَ اللّٰهُ تَبَارَكَ وَتَعَالٰى فِي الْقُرْاٰنِ الْكَرِيْم (الله پاک په قرآنِ کريم کښې فرمائي):

---

[1] ... معجم اَوْسط، جلد:1، صفحه:497، حديث:1835۔

[2] ... سامان بخشش، صفحه:141و 142 ملتقطًا۔

اَلَّذِیْنَ یَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ وَ اَنَّهُمْ اِلَیْهِ رٰجِعُوْنَ۝۴۶ (پاره: 1، سورة البقرة: 46)

صَدَقَ اللهُ الْعَظِیْم وَ صَدَقَ رَسُوْلُهُ النَّبِیُّ الْکَرِیْم صَلَّی اللهُ عَلَیْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: څوک چې یقین لري چې هغوئ به خپل رَبّ سره مخ کیږي او هغوئ به هُم د هغهٔ پهٔ طرف بېرته ګرځي-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللهُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د آیت مبارک مختصر وضاحت

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ د وړومبۍ سیپارې د سورهٔ بقره د آیت: 46 د اوږدو سعادت حاصل کړو، پهٔ دې آیت مبارک کښې مونږ له یو اهم سبق راکړے شوے دے، د آیت مبارک پِس منظر یعنې د مخکښنو آیتونو سره تعلق داسې دے چې رَبِّ کائنات مونږ ته د نمونځ او صبر حُکم راکړو، بیا یې وفرمائیل:

وَ اِنَّهَا لَكَبِیْرَةٌ اِلَّا عَلَى الْخٰشِعِیْنَ۝۴۵ (پاره: 1، سورهٔ البقره: 45)

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: او بے شکه دا نمونځ ضرور دروند [مشکل] دے خو نهٔ پهٔ هغوئ چې د زړهٔ نه زما طرف ته ټیټیږي-

یعنې نمونځ دروند دے، ډېر ګران کار دے، آؤ! کوم چې خَاشِعِین دي، د رَبِّ کریم نهٔ وېره لرونکي دي، د هٰغه رحمان او رحیم رَبّ سره محبت لرونکي دي، د چا زړونه چې د وېرې نهٔ ډک دي، د هغوئ د پاره دا کار ګران نهٔ دے، ډېر اسان دے-

اوس خَاشِعِین (یعنې د الله نه وېرېدونکي) څوک دي؟ د دې وضاحت کولے شي، اِرشاد دے:

اَلَّذِیْنَ یَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ وَ اَنَّهُمْ

[مفهوم] ترجمهٔ کنزُ العِرفان: څوک

اِلَيْهِ رٰجِعُوْنَ۝۴۶

(پاره: 1، سورۃ البقرہ: 46)

چې يقين لري چې هغوئ به خپل رب سره مخ کيږي او هغوئ به هُم د هغۀ پۀ طرف بېرته ګرځي-

پۀ دې ځائے کښې ظَنّ (يعنې ګمان) د **يقين** پۀ معنىٰ کښې دے- [1] د خَاشِعِينو 2 صفتونه دي: (1): **خَاشِع** هغه وي کوم چې د قيامت پۀ ورځ د الله پاک پۀ دربار کښې د حاضرىٔ يقين لري، د الله پاک پۀ دربار کښې د پېشىٔ وېره پۀ زړۀ کښې لري (2): **خَاشِع** هغه وي کوم چې مرګ، د دې دُنيا نه واپس ګرځېدل او د خپل رَبّ طرف ته تلل هر ساعت مخې ته ساتي-

ټول مشکلات به اسان شي

د قرآنِ کريم مشهور مفسر، حکيم الاُمّت مفتي احمد يار خان نعيمي رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه د دې آيت وضاحت کړے دے او ليکلي يې دي چې بني اسرائيلو ته د ايمان راوړو حکم اوکړے شو خو دا د دوئي د پاره ډېر ګران وو (دوئي ته د خپل منصب، عهدو د لاس نه وتل پۀ نظر راتلل، امدن بندېدل ورته پۀ نظر راتلل، ځکه دوئي د منصب او د مال پۀ لالچ کښې اِيمان نۀ قبلولو)، دوئي ته د دې حل ورکړے شو، حکم وشو: **د صبر او نمونځ پۀ ذريعه مدد حاصل کړئ!** د دې 2 عبادتونو پۀ ذريعه به پۀ تاسو کښې د اِيمان قبلولو همت راشي- بيا مسئله دا وه چې نمونځ پخپله ډېر ګران عبادت دے، پۀ پابندىٔ سره، د پوره عاجزىٔ سره نمونځ کول اسان نۀ دے، پۀ نورو تِکو کښې داسې ووايئ چې د يو مشکل چې کوم حل ورکړے شو، هغه پخپله ګران دے، نو د دې د اسانىٔ تدبير بيان شو، وفرمائيلے شول: ❁ د خپل رَبّ سره د ملاقات او د هغه طرف ته د ګرځېدو خيال پۀ خپل زړۀ کښې کښېنوئ! ❁ کله چې پۀ زړۀ کښې دا خيال پيدا شي نو د دُنيائي فِکرونو نه به نجات حاصل شي

[1] ... تفسير جلالين مع حاشيہ صاوى ، پاره:1، سورۂ بقرة، زيرِ آيت:46، جز :1، جلد:1، صفحہ:69۔

❁ چې د دُنيائي فِکرونو نه نجات حاصل شي نو زړۀ به قرار وموي ❁ چې زړۀ قرار وموي نو نـمونځ به اسان شي بلکې نـمونځ به خوند درکول شروع کړي ❁ کله چې دا خوند مېلاؤېدل نصيب شي نو پۀ زړۀ کښې به د نـمونځ محبت پېدا شي، دې سره به تاسو د نـمونځ پابند جوړ شئ ❁ **کله چې د نـمونځ پابند جوړ شئ نو د دې پۀ برکت به مو ټول مشکلات اسان شي۔** [1]

سُبْحٰنَ الله! خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پۀ دې ترتيب باندې غور اوکړئ! د ټولو نه وړومبے خيز چې کوم پکار دے، هغه دے: د الله پاک نه وېره، د الله پاک پۀ دربار کښې د حاضرۍ خيال، د مرګ ياد- چې کله دا نصيب شي نو ❁ اِنسان به نـمونځ ګزاره هم شي ❁ د نېکو محبت به هم مېلاؤ شي ❁ د ګناهونو نه به نفرت هم مېلاؤ شي ❁ د دُنيا محبت به هم ختم شي ❁ د اخرت فِکر به هم نصيب شي ❁ اخلاق او کردار به هم ښه شي او ❁ د الله پاک د دې وېرې او د مرګ د ياد پۀ برکت سره به ټول مشکلات هم اسان شي۔

قَبر بھی اُس کی جنّت کا گلزار ہے
باغِ فردوس کا بھی وہ حقدار ہے
قلب میں جس کے راسِخ ہے خوفِ خدا
جو مقدّر سے ہے عاشقِ مصطَفٰے
اُس کو نارِ جہنَّم سے کیا واسِطہ
مرتے ہی بِالْیَقِیْن سُوئے جنّت گیا[2]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د دې آيت نه د خوف خدا [الله پاک د وېرې] فائدې ذهن ته راځي۔

پۀ نېکو باندې د اِستقامت وظيفه

د ټولو نه وړومبے فائده خو هم دا ده چې د الله پاک د وېرې پۀ برکت اِنسان پوخ، رښتونے نـمونځ ګزاره جوړېږي، بعضې وخت خلق خپل مشکلات بيانوي چې ❁ زۀ غواړم چې

---

[1]... تفسير نعيمي، پاره:1، سورۀ بقرة، زير آيت:45، جلد:1، صفحه:350 و 351 خلاصتًہ۔

[2]... وسائلِ بخشش، صفحه:656۔

نـمونځ ګزاره جوړ شم خو نشم جوړېدے ❁ روزانه د شپې الارم (Alarm) لګوم او اودۀ کېږم خو د سحر د نـمونځ د پاره راپاڅېدے نشم ❁ روزانه د ټولو نـمونځونو د کولو نیت کووم خو پۀ دې باندې رانه عمل نۀ کیږي، د دې مشکل بهترین عِلاج قرآنِ کریم مونږ ته ښودلے دے، فرمائي:

اَلَّذِیۡنَ یَظُنُّوۡنَ اَنَّہُمۡ مُّلٰقُوۡا رَبِّہِمۡ وَ اَنَّہُمۡ اِلَیۡہِ رٰجِعُوۡنَ ﴿۴۶﴾

(پاره:1، سورۀ البقره:46)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: څوک چې یقین لري چې هغوئي به خپل رب سره مخ کیږي او هغوئي به هُم د هغۀ پۀ طرف بېرته ګرځي-

یعنې کوم خلق چې نـمونځ ګزاره جوړېدل غواړي خو نشي جوړېدے، د چا زړونه چې د نـمونځ طرف ته نۀ مائله کیږي، د چا پۀ زړونو کښې چې د نـمونځونو شوق نشته، څوک چې دُنیائي مصروفیاتو د نـمونځونو او د نور نېک کارونو نه غافله کوي، هغوئي له پکار دي چې د رَبّ پۀ حُضُور کښې د حاضرئ خیال پۀ ذِهن کښې راولي او مرګ ډیر ډېر یادوي، د دې پۀ برکت سره به د نـمونځونو او د نېکو محبت هم مېلاؤ شي، پۀ دې باندې به اِستقامت هم نصیب شي او اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! پوخ، رښتونے، نېک نـمونځ ګزاره به هم جوړ شي-

سحر مو سترګې ولې نۀ غړېږي---؟

حافظِ مِلَّت علامه عبد العزیز رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ یو ځل د میلاد شریف پۀ جلسه کښې بیان کولو او وه یـې فرمائیل: چې ووایئ---! داسې اِنسان کوم چې د ډېرو شپو نه وینې وي، سترے ستومانه وي، پۀ څۀ ښه کمره کښې د هغه د پاره د ښه نه ښه مزېداره بستره وغوړوي او هر قِسمه د ارام ذریعې ورکړي، بیا هُغه سترې ستومانه اِنسان ته پۀ هُغه کمره کښې د اودۀ کېدو د پاره ووائي او ورسره ورته دا هم ووائي چې پۀ کمره کښې یو مار اوسیږي، نو ووایئ چې هُغه سترې ستومانه او د ډېرو شپو راسې وینې اوسېدونکي اِنسان له به پۀ هُغه نرمه

پسته بستره کښې خوب ورشي؟ پۀ خلقو کښې چا ووئيل چې نا- نو وه يـې فرمائيل: خوب به ولې نۀ ورځي؟ ځکه چې د هٰغه اِنسان پۀ زړۀ کښې د مار وېره کښناسته، د مار وېره پېدا شوه نو د هغۀ خوب وتښتېدو- چې د مار د وېرې نه خوب تښتېدے شي نو د الله پاک وېره چې پۀ زړۀ کښې وي او د نـمونځ پۀ وخت خوب درشي داسې څنګه کېدے شي؟ [1]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا واقعي چې حقيقت دے، مونږ له پکار دي چې پۀ خپل ځان کښې وېره پېدا کړو، مرګ رايادوو، د رَبّ پۀ دربار کښې د پېښ کېدو خيال پۀ ذِهن کښې راولو، د شپې چې کله اودۀ کيږو نو د سحر د نـمونځ د پاره الارم (**Alarm**) ضرور لګوو بلکې چا نـمونځ ګزاره يا که کېدے شي نو د محلې د جومات اِمام صاحب ته خواست اوکړئ چې هغه تاسو د سحر د نـمونځ پۀ وخت راپاڅوي، د دې سره سره يو بل کار کوئ، د شپې د اودۀ کېدو نه مخکښې چې پۀ بستره باندې څملې نو د لږ ساعت د پاره د مرګ او د قبر او د اخرت خيال پۀ ذِهن کښې راولئ، دا د اودۀ کېدو پۀ آدابو کښې هم دي چې پۀ ښي اړخ باندې، د ښي مخ لاندې، ښې لاس کښېږدې او د قبلې طرف ته مخ کړې او اودۀ شې او هٰغه وخت پۀ قبر کښې د اودۀ کېدو خيال پۀ ذِهن کښې راولې- د دې پۀ برکت به اِنْ شَآءَ اللهُ الْکَرِیم د نورو ډېرو فائدو مېلاؤېدو سره سره د سحر نـمونځ ته د راپاڅېدو توفيق به هم نصيب شي-

د رَبّ پۀ دربار کښې د حاضرۍ خيال طاقت ورکوي

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! خوف خدا، د الله پاک پۀ دربار کښې د حاضرۍ وېره او دا خيال هم ډېر د کمال څيز دے، د دې سره اِنسان ته همت مېلاؤېږي، حوصله مېلاؤېږي، دا يو پټ طاقت دے کوم چې مونږ له ډېر همت او اوچته حوصله راکوي، د دې پۀ برکت اِنسان داسې داسې کارنامې کوي چې دُنيا ورته حېرانېږي- الله پاک پۀ قرآنِ کريم کښې

---

[1]... معارف حافظ ملت، صفحہ:87۔

يوه واقعه ذِکر کړې ده، حضرت طالوت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه د بني اِسرائيلو بادشاه وو او هغوئي بادشاه چا جوړ کړے وو؟ د هٰغه وخت نبي عَلَيْهِالسَّلَام ته وحي راغله، د الله پاک پۀ حُکم باندې هغوئي بادشاه مقرر کړے شو-

چې کله دے بادشاه مقرر شو نو د هٰغه وخت يو ډېر لوئي غېر مسلمه وو: جالوت- حضرت طالوت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه يو لوئي لښکر تيار کړو او د جالوت سره د جنګ د پاره روان شو، کله چې دا لښکر د جنګ د پاره تللو نو پۀ لاره کښې الله پاک د هغوئي اِمتحان اخستل اوغوښتل ، نو حُکم وشو: لږ مخکښې چې لاړ شئ نو نهر به راشي، تاسو به ډېر تږي هم يې خو څوک چې د هٰغه نهر نه اوبۀ ونۀ څښي، هغه به پۀ لښکر کښې شامل وي، څوک چې اوبۀ وڅښي، هغه به واپس لېږلے کيږي- تلل تلل چې لږ مخکښې هٰغه نهر راغلو، بيا معامله څۀ داسې وشوه چې ډېرو خلقو د نهر نه اوبۀ وڅښلې، حضرت طالوت رَحْمَةُاللهِعَلَيْه هٰغه ټول د لښکر نه بهر کړل او کورونو ته يې ولېږل- بيا چې نور کوم پاتې شو، هغوئي صرف 313 وو-

بيا د جالوت سره مخ کېدل وو- د ډېر طاقتور او د ډېر زيات فوځ لرونکي بادشاه سره جنګ وو- دلته د حضرت طالوت عَلَيْهِالسَّلَام پۀ لښکر کښې صرف 313 کسان وو- دا يې چې وليدل نو د ځينو خلقو حوصلې وخوټېدلې، همت يې ختم شو، دوئي ووئيل:

لَا طَاقَةَ لَنَا الْيَوْمَ بِجَالُوْتَ وَجُنُوْدِهٖ ؕ
(پاره:2، سورۀ البقرة:249)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: پۀ مونږ کښې نن د جالُوت او د هغۀ د لښکريانو سره د مقابلې طاقت نشته-

يعنې دوئي ګويا همت بائللے وو چې چرته د جالوت دومره لوئي او طاقتور لښکر او چرته مونږ 313 کسان--!! مونږ به د جالوت سره جنګ څنګه کوو؟ د دې حوصلې بائلونکو

نه علاوه چې باقي پاتې کوم خلق وو، هغوئ څوک وو؟ الله پاک فرمائي:

اَلَّذِیْنَ یَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُّلٰقُوا اللّٰهِ (پاره:2، سورۃ البقرۃ:249)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: کومو چې الله سره د ملاقات یقین لرلو-

سُبْحٰنَ الله! دا هٰغه خلق وو کومو چې پۀ زړۀ کښې د قیامت یقین لرلو، د الله پاک پۀ دربار کښې د حاضرۍ منظر د هغوئ پۀ ذِهن باندې راخور وو، دا د الله پاک نه وېره لرونکي وو، د الله پاک نه وېرېدونکي وو، پۀ دې موقع باندې هغوئ څنګه همت وښودلو، وه یې وئیل:

كَمْ مِّنْ فِئَةٍ قَلِیْلَةٍ غَلَبَتْ فِئَةً كَثِیْرَةًۢ بِاِذْنِ اللّٰهِ ؕ وَ اللّٰهُ مَعَ الصّٰبِرِیْنَ (پاره:2، سورۃ البقرۃ:249)

[مفهوم] ترجمۂ کنزُ العِرفان: ډېر ځله وړه ډله د الله پۀ حُکم پۀ لویه ډله غالِبه راغلې ده او الله صبر کوونکو سره ملګرے دے-

یعنې اے خلقو! که مونږ 313 یو نو څۀ چل وشو--!! که د جالوت لښکر لوئي او طاقتور دے نو څۀ وشو--؟ تاسو حوصله مۀ بائلئ! مونږ د الله پاک بندګان یو، الله پاک پۀ خپل قُدرت باندې ډېر ځل وړوکي لښکر ته پۀ لوئي لوئي لښکرونو باندې فتح عطا کوي، ځکه د حوصلې نه کار واخلئ--!!

د هغوئ دې نصیحت اَثر اوکړو، بیا دُنیا ولیدل چې هٰغه د 313 وړوکي لښکر د جالوت زرګونو لښکر ته سخته او تاریخي ماتې ورکړه- [1]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دلته وګورئ چې پۀ دې 313 کښې چې کوم همت لرونکي خلق وو، ډېر د حوصلې والا خلق وو، الله پاک پۀ خصوصي توګه د هغوئ دا صفت بیان کړو چې دوئي د الله پاک پۀ دربار کښې د حاضرۍ یقین لرونکي خلق وو، د الله پاک نه

[1]... تفسیر خازن، پاره:2، سورۃ بقرۃ، زیر آیت:249، جلد:1، صفحہ:182 و183 خلاصۃً۔

وېرېدونکي خلق وو، د الله پاک وېرې دوئي د ډېر همت او ډېر د اوچتې حوصلې والا جوړ کړي وو، د دې پۀ برکت هغوئي پۀ دومره لوئي لښکر باندې قابو وموندله-

سُبْحٰنَ الله! معلومه شوه چې د الله پاک وېره، د قیامت پۀ ورځ د الله پاک پۀ دربار کښې د حاضرۍ خیال اِنسان له حوصله ورکوي، د کومې پۀ برکت چې اِنسان د لوئي لوئي سختو نه پۀ مُسکا تېریږي- وګورئ کنه--!! اِمامِ عالي مقام، اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ د کربلا پۀ مېدان کښې څنګه صبر اوکړو، څومره اِستقامت یې وښودلو، څومره سخت اِمتحان وو، پۀ کوم کښې چې هغوئي ثابت قدم پاتې شو او کامیاب شو- د هغوئي هم دا صفت وو، هغوئي به مرګ هر وخت خپلې مخې ته ساتلو- د 10 مُحَرَّم شپه، پۀ کومه شپه چې سحر پۀ کربلا کښې جنګ وشو، پۀ هٰغه شپه حضرت زینب رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہا کومه چې د اِمامِ حُسَین رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ خور ده، هغه د اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ پۀ خِدمت کښې حاضره شوه، خپله پرېشاني او غم یې هغوئي ته بیان کړو چې د کربلا مېدان دے، څلورو واړو اړخونو ته یزیدیان ظالمان دي، آه! اوس به د دې مشکلاتو مقابله څنګه کوو؟ اِمامِ عالي مقام رَضِیَ اللّٰہُ عَنْہُ هٰغه وخت ډېر ښکلے نصیحت وفرمائیلو، وه یې فرمائیل: **خورې--!! چې شېطان ستا برداشت او صبر ته نقصان وه نۀ رسوي**، د زمکې والا به ټول یوه ورځ مړۀ کیږي، اسمان والا به هم باقي نۀ وي، باقي پاتې کېدونکے ذات صرف د الله پاک دے- (1)

ځکه **خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو!** پۀ ځان کښې د الله پاک نه وېره زیاته کړئ، د الله پاک پۀ دربار کښې د حاضرۍ خیال راولئ، مرګ رایادوئ، یقین اوکړئ چې د دې پۀ برکت باندې د مشکلاتو نه پۀ ډکه دې دُنیا کښې ژوند کول اسان شي ❁ حضرت کَعبُ الاَحبار رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمائي: څوک چې مرګ وپېژني پۀ هغۀ باندې د دُنیا غمونه او مصیبتونه اسان شي (2) ❁ د اِمامِ حَسَن بصري رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ فرمان دے: چا چې د مرګ یاد پۀ خپل زړۀ

---

[1]... تاریخ طبری، ثم دخلت سنۃ احدی و ستین، ذکر الخبر عما کان فیها من الاحداث، جلد:3، صفحہ:316۔

[2]... حلیۃ الاولیاء، رقم:325، کعب الاحبار، جلد:6،صفحہ:43،رقم:7727۔

کښې دېره کړو، د دُنيا ټول مصيبتونه به پۀ هغۀ باندې اسان شي۔ [1]

تم اے بوڑھو سنو! نوجوانو سنو!
اے ضَعیفو سنو! پہلوانو سنو!
موت کو ہر گھڑی سر پہ جانو سُنو!
جلد توبہ کرو میری مانو سنو!
ایک دن موت آکر رہے گی ضَرور
اس کو تم مجرِمو! کچھ سمجھنا نہ دور
صَلُّوا عَلَی الْحَبِیْب!
صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د خوف خدا[الله پاک نه د وېرې] فائدې او ثواب

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! پۀ زړۀ کښې د قبر او د اخرت وېره ساتونکو ته څۀ څۀ اِنعامونه مېلاؤېږي، واورئ! ❁ پۀ زړۀ کښې د الله پاک وېره دېره کوونکو ته د جَنَّت باغونه او چينې عطا کولے شي۔ پۀ قرآنِ کريم کښې دي:

اِنَّ الْمُتَّقِیْنَ فِیْ جَنّٰتٍ وَّ عُیُوْنٍ ﴿۴۵﴾
(پاره:14، سورۀ الحجر:45)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: بے شکه پرهېزګاره خلق به پۀ باغونو او چينو کښې وي۔

هر څيز د هغۀ نه وېرېږي

❁ حضرت فضيل بن عياض رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه فرمائي: کوم ګس چې د الله پاک نه وِېرېږي، هر څيز د هغۀ نه وېرېږي او څوک چې د الله پاک نه نۀ وېرېږي نو الله پاک هغه د هر څيز نه وېروي۔ [2] ❁ د حضرت کعب الاحبار رَحْمَةُاللهِ عَلَيْه نه روايت دے: الله پاک د شنو ملغلرو يو محل پيدا کړے دے پۀ کوم کښې چې 70 زره کورونه دي او پۀ هر کور کښې 70 زره کمرې دي۔ دې ته به هغه ګس داخليږي د چا مخې ته چې حرام پېش کړے شي او هغه

---

[1] ... موسوعہ ابن ابی الدنیا ، کتاب ذکر الموت،جلد:5،صفحہ:432، حدیث:129۔
[2] ... شعب الایمان، باب فی الخوف اللہ تعالی، جلد:1، صفحہ:541، حدیث:974 بتغیر قلیل۔

صرف د الله د وېرې نه هغه پرېږدي۔ [1] ❁ حضرت فضيل رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه فرمائي: کوم ګس چې د الله پاک نه وېرېږي نو دا وېره د هرې نېکۍ طرف ته د هغۀ لار ښودنه کوي۔ [2]

د مِثالي معاشرې د پاره د الله پاک نه وېره وړومبے شرط دے

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! د الله پاک د وېرې پۀ فائدو کښې يوه اهمه او لويه فائده دا هم ده چې د دې پۀ برکت د معاشرې ټولې بدۍ ختمېږي، که چرې زمونږ پۀ صحيح معنو کښې د الله پاک نه وېره نصيب شي، د الله پاک پۀ دربار کښې د حاضرۍ وېره نصيب شي، د مرګ وېره زمونږ پۀ زړۀ کښې کښېني نو د دې پۀ برکت به ❁ زمونږ معاشره واقعي چې مِثالي معاشره جوړه شي ❁ زمونږ د معاشرې نه به ټولې بدۍ ختمې شي ❁ د ګناهونو اډې به ورانې شي او ټوله معاشره به پۀ دُنيا کښې د جَنَّت تصوير جوړ شي۔ اګر چې د ګناهونو، د جرمونو نورې هم ډېرې وجهې دي، پۀ دې کښې د ټولو نه اهمه او بنيادي وجه د الله پاک د وېرې کمے هم دے۔ ❁ شراب ولې څښلے کيږي؟ **د الله پاک د وېرې** د کمي پۀ وجه ❁ اِنسان بدکاري ولې کوي، **د الله پاک د وېرې** د کمي پۀ وجه ❁ سود ولې کولے شي؟ **د الله پاک د وېرې** دکمي پۀ وجه ❁ غلاګاني ولې کيږي؟ **د الله پاک د وېرې** د کمي پۀ وجه ❁ ډاکې ولې کيږي؟ **د الله پاک د وېرې** د کمي پۀ وجه ❁ بر ناحقه قتلونه ولې کيږي؟ **د الله پاک د وېرې** د کمي پۀ وجه ❁ د جوارۍ اډې ولې چلېږي؟ **د الله پاک د وېرې** د کمي پۀ وجه ❁ نورو ته برناحقه تکليف ولې رسولے کيږي؟ **د الله پاک د وېرې** د کمي پۀ وجه ❁ غيبت ولې کيږي؟ **د الله پاک د وېرې** د کمي پۀ وجه ❁ چغلي، دروغ، وعده خلافي، کنځلې، دا هر څۀ ولې کيږي؟ **د الله پاک د وېرې** د کمي پۀ وجه ❁ پۀ هر کور کښې جګړې ولې کيږي؟ **د الله پاک د وېرې** د کمي پۀ وجه ❁ پۀ ناپ تول کښې کمے

---

[1] ... مكاشفة القلوب، باب فى بيان الخوف، صفحہ:12۔

[2] ... احياء العلوم، كتاب الخوف والرجاء، بيان فضيلت الخوف والترغيب فيہ، جلد:4، صفحہ:197۔

ولې کولے شي؟ **د الله پاک د وېرې** د کمي پۀ وجه، غرض: د ګناهونو چې څومره هم فهرست جوړ کړے شي، د هٰغه ټولو ګناهونو پۀ ذريعو کښې چې به کوم بنيادي څيز مېلاؤېږي هغه به **د الله پاک د وېرې** کمے وي- ځکه که چرې مونږ خپله معاشره مثالي معاشره جوړول غواړو، که د معاشرې نه ګناهونه ختمول غواړو نو دې د پاره به مونږ ټولو ته پۀ ځان کښې **د الله پاک نه وېره** پيدا کول وي-

د خوف خدا[الله پاک د وېرې] پۀ وجه بے هوشه راپرېوتو

د حضرت مِسعَر بِن کِدَام رَحْمَةُاللهِعَلَيْه نه روايت دے، يوه ورځ مونږ د اِمامِ اعظم، اِمامِ ابو حنيفه رَحْمَةُاللهِعَلَيْه سره پۀ يو ځائے تېرېدو، پۀ بے خيالۍ کښې د اِمامِ اعظم رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ښپه مبارکه د يو هلک پۀ ښپه باندې راغله، د هلک د خُلې نه چغه وختله او د هغۀ د خُلې نه بے اِختياره ووتل: يَا شَيْخُ اَلَا تَخَافُ الْقِصَاصَ يَوْمَ الْقِيَامَةِ يعني جناب! آيا تاسو د قيامت پۀ ورځ د اخستے کېدونکي اِنتقام نه نۀ وېرېږئ؟ بس د هٰغه هلک دا خبره اورېدل وو چې پۀ اِمام اعظم رَحْمَةُاللهِعَلَيْه باندې وېره غالبه شوه او هغوئي بے هوشه شو او زمکې له يې تشريف يوړلو- [1]

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! اندازه ولګوئ چې د اِمامِ اعظم رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ښپه مبارکه صرف پۀ بې خيالۍ کښې د هٰغه هلک پۀ ښپه باندې راغله، هغوئي قصداً داسې نۀ ووکړي، د هٰغه هلک د خُلې نه هم بے اِختياره جمله ووتله خو پۀ دې جمله کښې د قيامت پۀ ورځ د الله پاک پۀ دربار کښې د حاضرۍ ذِکر وو، اِمامِ اعظم رَحْمَةُاللهِعَلَيْه ته چې څنګه د الله پاک پۀ دربار کښې د حاضرۍ خيال راغلو نو پۀ هغوئي باندې وېره غالبه شوه او بے هوشه شو او زمکې له يې تشريف يوړلو- غور اوکړئ چې کوم اِنسان د الله پاک نه دومره وېريږي ❁ آيا هغه به د چا حق وخوري؟ ❁ آيا هغه به چا ته کنځلې اوکړي؟ ❁ آيا هغه به د چا

---

[1] ... اشکوں کی برسات، صفحہ:17۔

پېسې وخورې؟ ❁ آيا هغه به څوک برناحقه تنګ کړي؟ ❁ آيا هغه به د نورو خوب خراب کړي؟ ❁ آيا هغه به د نورو بد بيان کړي؟ هيڅکله نه بلکې څوک چې **د الله پاک نه وېره** لرونکے وي هغه به هر وخت د نورو د حقونو خيال ساتونکے وي- معلومه شوه چې که زمونږه **د الله پاک د وېرې** نعمت نصيب شي نو اِنْ شَآءَ اللّٰه اَلْکَرِيم! د معاشرې نه به جرمونه او د نورو حقونه خوړل بالکل ختم شي-

عطا ہو خوفِ خُدا خُدارا، دوالفتِ مصطفےٰ خُدارا

کروں عمل سنتوں پہ ہر دَم، امامِ اعظم ابو حنیفہ [1]

صَلُّوْا عَلَى الْحَبِيْب! صَلَّى اللّٰهُ تَعَالٰى عَلٰى مُحَمَّد

مفتئ اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه او د خبر خواهئ جذبه

يو ځل علامه اَرشَدُ القادري صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه شهزاده اعلیٰ حضرت ، مفتي اعظم هند، مولانا مصطفٰے رضا خان رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه ته خپلې مدرسې، **مدرسه فَيْضُ الْعُلُوم** ته د تشريف راوړلو دعوت ورکړو، حضور مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه تشريف راوړو، په واپسئ کښې ريلوے سټيشن ته د تللو د پاره حضور مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه په رکشه کښې لا هيله ناست وو چې يو ګس حاضر شو او عرض يې اوکړو: حضور! د فلانکئ پريشانئ سره مخ يم، تعويذ را له راکړئ- علامه ارشدُ القادري صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه هغه ګس ته وفرمائيل: د ګاډي د راتلو وخت شوے دے او ته اوس د تعويذ اخستو د پاره راغلې! حضور مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه علامه ارشد القادري صاحب رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه منع کړو- علامه صاحب عرض اوکړو: حضور! ګاډے به رانه لاړ شي- په دې باندې مفتي اعظم هند رَحْمَةُ اللهِ عَلَيْه د الله پاک نه د وېرې په جذبه کښې وفرمائيل: لاړ دې شي! په بل ټرين کښې به لاړ شم- سبا د قيامت په ورځ که چرې الله پاک پوښتنه اوکړه چې تا زما د فلانکي بنده په پريشانئ

---

[1]... وسائل بخشش، صفحہ:573۔

کښې مدد ولې اونکړو؟ نو زۀ به څۀ جواب ورکووم؟ دا يې وفرمائيل او د رکشې نه يې خپل ټول سامان راکوز کړو۔ [1]

خیالِ خاطرِ احباب چاہئے ہر دم | انیس ٹھیس نہ لگ جائے آبگینے کو

وضاحت: هر وخت د مسلمانانو وروڼو د زړونو خيال ساتل پکار دي! الله دې نۀ کړي چرته د چا زړۀ ازار نۀ شي!

اے د خوږ نبي صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم **عاشقانو!** غور اوکړئ چې حضور مفتئ اعظم هند رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ د الله پاک نه څومره وېره لرونکے وو، د هغوئ سره د قيامت پۀ ورځ د الله پاک پۀ دربار کښې د پېښ کېدو وېره وه، هغوئ د يو پرېشانه مسلمان د خبر خواهۍ د پاره ګاډے د لاس نه وتل خو خوښ کړل خو د هغه د زړۀ ساتنې نه بغېر تلل يې منظور نۀ کړل- اوس غور اوکړئ چې د مسلمانانو وروڼو د خبر خواهۍ دا جذبه که چرې زمونږ نصيب شي نو زمونږه معاشره به څومره ښائسته او ښکلې شي، جنګ جګړې به ختمې شي، د کنځلو سوچ به هم باقي پاتې نۀ شي، حَسَد، د بَل نه سوزېدل، بغض او کينه وغېره دا ټولې باطني بيمارۍ به د معاشرې نه ختمې شي- او دا هر څۀ به څنګه کيږي؟ **د الله پاک نه د وېرې** پۀ ذريعه-

قلب میں خوفِ خُدا رکھ کر تُو سارے کام کر | کامیابی ہو گی تیری اِنْ شَآءَ اللّٰہ! ہر ڈَگر [2]

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

مرګ همېشه ياد ساتئ!

خوږو او محترمو اِسلامي وروڼو! دا دوه صفتونه دي:

اَلَّذِیْنَ یَظُنُّوْنَ اَنَّهُمْ مُّلٰقُوْا رَبِّهِمْ وَ اَنَّهُمْ اِلَیْهِ رٰجِعُوْنَ۠ ﴿۴۶﴾ (پاره:1، سورۃ البقرہ:46)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: خوک چې يقين لري چې هغوئ به خپل

---

[1]... مفتی اعظم ہند کی استقامت و کرامت، صفحہ:120و 121 خلاصۃً۔

[2]... وسائل بخشش، صفحہ:698۔

رب سره مخ کيږي او هغوئي به هُم د هغه پۀ طرف بېرته ګرځي-

(1): د الله پاک پۀ دربار کښې د حاضرۍ فِکر (2): د مرګ ياد- دا دواړه څيزونه که چرې نصيب شي نو مونږ پۀ پوره توګه د دننه نه صحيح کېدے شو، ځکه د دې دواړو صفتونو پۀ خپل ځان کښې د پېدا کولو پوره کوشش اوکړئ!

وېرېږئ---!! د واپس ګرځېدو د ورځې نه

پۀ 3 سپيارہ، د سورۀ بقرہ، پۀ آيت: 281 کښې الله پاک فرمائي:

وَاتَّقُوْا يَوْمًا تُرْجَعُوْنَ فِيْهِ اِلَى اللّٰهِ (پاره:3 ، سورۀ بقره:281)

[مفهوم] ترجمۀ کنزُ العِرفان: او د هغه ورځې نه وېرېږئ پۀ کومه ورځ به چې تاسو د الله طرف ته ګرځولے کېږئ-

د يو قول مطابق د دې آيت مبارک معنیٰ ده: اے اِيمان والؤ! وېرېږئ د هغه ورځې نه کله چې به تاسو دا دُنيا پرېږدئ او د اخرت پۀ سفر باندې به روانېږی- (1)

آه! ❁ هغه ورځ کله چې به ملک المَوت عَلَيْهِ السَّلَام تشريف راوړي ❁ د بدن نه به رُوح پۀ زوره ويستلے شي ❁ پۀ جوماتونو کښې به اِعلانونه اوکړے شي چې فلانکے د فلانکي ځوي پۀ حق رسېدلے دے- آه! ❁ بيا به هم ډېر زر غَسَّال (غُسل راکوونکے) راوبللے شي ❁ غسل به راکړے شي او کفن به راته واغوستے شي، بيا ---!! پۀ لږ ساعت کښې به مونږ تيارۀ قبر ته کوز کړے شي- اے اِيمان والؤ! وېرېږئ---!! د هغه ورځې نه---!!

ہے يہاں سے تجھ کو جانا ايک دن
قبر ميں ہو گا ٹھکانا ايک دن
منہ خدا کو ہے دِکھانا ايک دن
اب نہ غفلت ميں گنوانا ايک دن
ايک دن مرنا ہے آخر موت ہے
کرلے جو کرنا ہے آخر موت ہے

[1]... تفسير صراط الجنان، پاره:3 ، سورۀ بقره، زيرِ آيت :281، جلد:1 ، صفحه:419 مفهوماً-

د زړۀ د سختی عِلاج

یو ځل یو ګس دربار رسالت صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم ته حاضر شو او د زړۀ د سختی شکایت یې اوکړو، سرکارِ عالي وقار، د مدینے تاجدار صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم وفرمائیل: اِطَّلِعْ فِی الْقُبُوْرِ وَاعْتَبِرْ بِالنُّشُوْرِ د قبرونو پۀ حالاتو باندې غور کوه او د مرګ نه پس د راپاڅېدو نه عبرت اخله---!! (1)

جب اس بزم سے چل دیئے دوست اکثر
اور اٹھتے چلے جارہے ہیں برابر
یہ ہر وقت پیشِ نظر جب ہے منظر
یہاں پر ترا دِل بہلتا ہے کیوں کر
جگہ جی لگانے کی دُنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

ټول غرور یې مات شو---!!

یو دهر ظالم حکمران تېر شوے دے: حَجاج بن یُوسُف- د هغه د فوځ یو مشر وو، د کوم نوم چې مُهَلِّب وو- یوه ورځ مُهَلِّب د ربښمو جامې اغوستې وې او پۀ فخر او غرور سره روان وو، حضرت مُطَرِّف بن عبد الله رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ چې هغه داسې پۀ تکبر کښې پۀ ګرځېدو ولیدو نو پۀ زړۀ کښې یې د نیکی د دعوت جذبه رابېداره شوه، حضرت مُطَرِّف بن عبد الله رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ خوا له تشریف وروړلو او وه یې فرمائیل: اے د الله بنده! د ګرځېدو دا انداز د الله پاک د ناخوښه خلقو او د رسولُ الله صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم د دښمنانو دے-

مُهَلِّب د فوځ سر لښکر وو، د عهدې او د منصب نشه د هغۀ پۀ مزغو سوره وه، کله چې هغۀ وکتل چې یو ګس هغۀ ته نصیحت کوي نو پۀ غصه کښې یې ووئیل: آیا تۀ ما نۀ پېژنې چې زۀ څوک یم؟ حضرت مُطَرِّف بن عبد الله رَحْمَۃُ اللّٰہِ عَلَیْہ هم مَاشَآءَاللّٰہ! ژوندے زړۀ لرونکے وو، هغوئي پۀ نرمی سره اِرشاد وفرمائیلو: آؤ! پېژنم دې چې تۀ څوک یې:

---

[1]... شُعَبُ الْاِیْمَان، باب الصلاة على من مات، فصل في زيارة القبور، صفحہ:16، جلد:7، حدیث:9292۔

اَوَّلُكَ نُطْفَةٌ مَذِرَةٌ ستا وړومبے حالت دا دے چې تۀ یو نا پاک خاڅکے وې، وَ آخِرُكَ جِيْفَةٌ قَذِرَةٌ ستا اخري حالت به دا وي چې تۀ به سخا مُردار شې وَاَنْتَ تَحْمِلُ الْعَذِرَةَ او (د دې دواړو حالتونو ترمینځه) تۀ پۀ خپټه کښې ګند ګرځوې- پۀ دې اوربدو د مُهلِّب عقل ځائے له راغلو، هغه د تکبر تګ پرېښودو او وړاندې روان شو- [1]

اے د خورِ نبي صَلَّى اللهُ عَلَيْهِ وَاٰلِهٖ وَسَلَّم عاشقانو! معلومه شوه چې ❁ د تکبر نشه ❁ د ځان خوښۍ نشه ❁ د طاقت او د قوت ❁ د عهدې او د منصب غرور ❁ د مال او د دولت نشه زمونږ د سر نه کوزېدے شي، که چرې مونږ مرګ یادوونکي جوړ شو-

وہ ہے عیش و عشرت کا کوئی محل بھی
جہاں تک میں ہر گھڑی ہو اَجل بھی
بس اب اپنے اس جہل سے تُو نکل بھی
یہ جینے کا انداز اپنا بدل بھی
جگہ جی لگانے کی دُنیا نہیں ہے
یہ عبرت کی جا ہے تماشا نہیں ہے

الله پاک دې زمونږه د خُدائے نه وېره نصیب کړي، د قیامت پۀ ورځ دې د رَبّ پۀ دربار کښې د حاضرۍ نه وېره راعطا کړي، کاش چې د مرګ یاد مو نصیب شي--!!

د الله پاک د وېرې حاصلولو طریقې

خورِو او محترمو اِسلامي وروڼو! مونږ د الله پاک نه د وېرې د اهمیت پۀ باره کښې واورېدل ❁ د الله پاک نه وېره هٰغه بنیادي څیز دے د کومې پۀ ذریعه چې مونږ دُنیا ته د راتلو خپل مقصد پوره کولے شو ❁ د الله پاک نه د وېرې پۀ ذریعه مونږ د ګناهونو نه بچ کېدے شو ❁ هُم د الله پاک نه د وېرې پۀ ذریعه زمونږه معاشره مثالي معاشره جوړېدے شي- اوس سوال دا دے چې پۀ مونږ کښې به د الله پاک نه وېره څنګه پیدا کیږي؟ ❁ دې د پاره دې د قرآنِ کریم د تِلاوت معمول جوړ کړے شي، پۀ خاص توګه هٰغه آیتونه پۀ کومو کښې

[1]... الباب فی علوم الکتاب، پاره:29، المعارج، زیر آیت:39، جلد:19، صفحہ:375 خلاصۃً۔

چې د الله پاک د عذاب، د دوزخ، د قیامت ذِکر دے، د هٰغه آیتونو دې ترجمه او تفسیر ولوستلے شي او په ذِهن کښې دې کښېنولے شي او ښه په توجه سره دې بیا بیا د هٰغه آیتونو تِلاوت اوکړے شي ❁ هٰغه حدیثونه په کومو کښې چې **د الله پاک نه د وېرې** بیان دے، داسې حدیثونه دې ولوستلے شي ❁ **د الله پاک نه د وېرېدو** متعلق کتابونه دې ولوستلے شي ❁ **د الله پاک نه د وېرېدونکو** د دِین د بزرګانو سیرت دې ولوستلے شي ❁ شیډول دې جوړ کړے شي او روزانه یا کم از کم په هفته کښې دې یو ځل هدېرې ته حاضري اوکړے شي، هلته دې فاتحه شریف هم ولوستلے شي او ورسره ورسره دې په دې خبره باندې هم غور اوکړے شي چې ډېر زر به مونږ ته هم قبر ته راتلل وي، هٰغه وخت به زما د واپسۍ حالت څۀ وي؟ بیا دې د قبر په معاملو هم غور اوکړے شي- اِنْ شَآءَاللّٰہُ الْکَرِیم! د الله پاک نه به وېره نصیب شي- الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم۔

نېک اعمال (Naik Amal) موبائل ایپلي کېشن

خوږو او محترمو اسلامي وروڼو! د الله پاک د وېرې مونډلو، د نېک جوړېدو او په نېکو اعمالو کښې د زیاتوالي یوه ذریعه نېک اعمال رساله هم ده- د دعوتِ اسلامي I.T ډیپارټمنټ یو موبائل ایپلي کېشن جاري کړے دے، د کوم نوم چې نېک اعمال (Naik Amal) دے۔ دا ایپلي کېشن په خپل موبائل کښې انسټال کړئ، په دې ایپلي کېشن کښې د اسلامي وروڼو، اسلامي خوئیندو او طالب علمانو د پاره بېلې بېلې رسالې موجودې دي ❁ دا په 6 مختلفو ژبو ❁ انګلش ❁ اُردو ❁ هندۍ ❁ بنګالۍ ❁ ګجراتۍ او ❁ سندهۍ کښې استعمالېدے شي ❁ په دې کښې په مختلفو نېک اعمالو باندې مشتمل سوالونه ورکړے شوي دي ❁ د هر سوال لاندې 30 خانې دي، هره ورځ د خپلې خوښې څۀ وخت هم مقرر کړئ او د خپلو اعمالو جائزه واخلئ، د دې مطابق ژوند تیروئ، اِنْ شَآءَاللّٰہُ الْکَرِیم! د دې په برکت

به د ګناهونو نه د بچ کېدو او د نېکو کولو ذهن جوړېږي، د زړۀ صفا والے به نصیب کیږي او کردار به مو صفا سوتره، ښکلے کیږي-

د بیان پۀ اخره کښې راځئ چې یوه شرعي مسئله زده کړو:

صحیح څۀ دي؟

(د صحیح شرعي مسئلې یا پۀ خلقو کښې د پرتې غلط فهمۍ پۀ ګوته کول)

مسئله: د جُمعې د ورځې پۀ دوہم اذان کښې خاموشه پاتې کېدل ښه دي-

وضاحت: د جُمعې پۀ ورځ چې کله د عربۍ والا خطبه وئیلے کیږي، دا خطبه پۀ خاموشۍ سره اورېدل واجِب ده، دغه شان چې د خُطبې نه مخکښې کوم اذان کیږي (کوم ته چې د جُمعې اذانِ ثاني وئیلے شي)، دا اذان هم پۀ توجه سره پۀ خاموشۍ سره اورېدل پکار دي، هٰغه وخت عام طور خلق پۀ فِکر کښې وي ځینې خلق د اذان جواب ورکوي، ځینې یې نۀ ورکوي، ځینې خلق د اذان پۀ وخت ګوتې ښکلوي، ځینې یې نۀ ښکلوي، د دې سوچ علاج یعنې صحیح شرعي مسئله څۀ ده؟ واورئ! ❁ خطیب صاحب څوک چې د عربۍ خطبه لولي، د هغه د پاره د دې اذان جواب ورکول او ګوتې ښکلول جائز دي ❁ د نورو خلقو د پاره ښه دا دي چې نۀ خو پۀ خُله د اذان جواب ورکړي او نۀ ګوتې ښکلې کړي- پۀ **فتاویٰ رضویه** کښې دي: د خطبې د اذان د جواب او د دې نه پس د دُعا لوستلو نه بچ کېدل ښه او که وه یې کړي نو څۀ باک پکښې نشته- هم داسې د خطبې پۀ اذان کښې پۀ پاک نوم باندې د ګوتو ښکلولو نه بچ کېدل ښه دي او که ښکل یې کړي نو هیڅ باک پکښې نشته- خو پۀ خطبه کښې صرف د سکون حُکم دے- پۀ خطبه کښې پۀ پاک نوم اورېدو باندې صرف پۀ زړۀ کښې دُرُود شریف لولئ نور هیڅ مۀ کوئ، ژبه هم مۀ خوزوئ- [1]

---

[1]... فتاویٰ رضویه، جلد:8، صفحه:468-

الله پاک دې مونږ ته د صحیح اِسلامي احکامو د زده کولو او پۀ هغې باندې د عمل کولو توفیق راعطا کړي- اٰمِین بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم-

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

د اَسمَاءُ الحُسنیٰ برکتونه (وظیفه)

یَاوَارِثُ (اے حقیقي مالِکه!)

څوک چې د یَاوَارِثُ وِرد کوي اِنْ شَآءَ اللّٰہُ الْکَرِیم! د هغه عمر به ډېر وي- (1)

الله پاک دې مونږ ته د عمل کولو توفیق راعطا کړي-

اٰمِیْن بِجَاہِ خَاتَمِ النَّبِیّٖن صَلَّی اللّٰہُ عَلَیْہِ وَاٰلِہٖ وَسَلَّم

صَلُّوْا عَلَی الْحَبِیْب! صَلَّی اللّٰہُ تَعَالٰی عَلٰی مُحَمَّد

[1] ... مدنی پنج سوره، صفحه: 259۔